مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید
۲۰۲۶/۱۰/۰۱

# د وروستيو پاکستاني بريدونو ترشا د لاملونو پارادوکس

په کونړ، پکتيکا، پکتيا، خوست او په کندهار کې د پاکستان وروستي هوايي بريدونه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پراخېدونکي کړکېچ څرګندونه کوي. پاکستان دغه عمليات د هغو وسلهوالو ډلو پر وړاندې د دفاعي اقدام په توګه توجيه کوي چې اسلام‌اباد يې د افغانستان له خاورې څخه په پاکستان د بريدونو مسئول ګڼي. افغانستان بيا د پاکستان تورونه ردوي. ياد بريدونه په خپله خاوره باندې د پاکستان تيری او د مکې تړون له مسئوليتونو څخه د پښو سپکولو هڅه ګڼي. د دواړو خواوو ترمنځ بنسټيزه ستونځه دا ده چې د امنيتي ادعاوو د سپيناوي او د اختلافونو د مديريت لپاره اغېزمن دوه‌اړخيز ميکانيزم نشته.
په کونړ او پکتيکا کې او وروسته په کندهار او نورو سيمو کې د پاکستان لخوا د بريدونو تر سره کول پوښتنه رامنځته کوي چې ايا د قطر او ترکيې لخوا د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو د سمون د هڅو په ترڅ کې ددغې شخړې دومره پراخول او په کندهار باندې برید، چېرته د طالبانو ستر مشر شتون لري، يوازې د پاکستان لخوا د ادعا شويو موخو په چوکاټ کې توجيه کېدای شي؟ له دې څخه ورهاخوا د اسلامي امارت وياند ذبيح‌الله مجاهد څرګندونې هم له پامه نه غورځول چې پاکستان هڅه کوي د مکې تړون له مخې د خپلو مسئوليتونو د نه ترسره کولو لپاره د افغانستان سره په جګړه کې ښکېلتيا د عذر په توګه وړاندې کړي.
د ټي ټي پي په هکله بايد د مستندو واقعيتونو، سياسي تعبيرونو او تحليلونو ترمنځ توپير وشي. د دغې ډلې شتون او په پاکستان کې يې فعاليتونه په نړيوالو رسنيو کې ثبت شوي، خو په دغه هېواد کې د ټي ټي پي د عملياتي جغرافيې محدوديت، د جګړې په څرنګوالي کې د بدلون رنګ او نيرنګ ته په کتو دغه پوښتنه مطرح کېږي چې د ځينو شننونکو په خبره پاکستان خو به په ريښتونې ډول امنيتي ستونځه د خپلو ستراتيژيکو موخو او د افغانستان پر وړاندې د سياسي او پوځي فشار لپاره د وسيلې په توګه نه کاروي؟
په افغانستان کې ګڼ شمېر شنونکي ادعا کوي چې له افغانستان څخه پاکستان ته د امنيتي ګواښ کچه دومره لوړه نه ده څومره يې پاکستان انځوروي. د شنونکو په اند نړيوالو ته د افغانستان په هکله د خطرناک او ننګوونکي انځور وړاندې کول د پاکستان د اوږدمهالې ستراتېژۍ برخه ده. پاکستان هڅه کوي د افغانستان انزوايي حالت ثابت وساتي او په دغه هېواد کې خپلو تګلارو ته د امريکا له ګټو سره همغږې کولو ته دوام ورکړي.
له مودو راهيسې په افغانستان او سيمه کې د پاکستان د اوږدمهاله تګلارو تاريخي شاليد هم له پامه نشي غورځول کېدای. پاکستان په تېرو لسيزو کې د سيمې د وسلهوالو ډلو په ملاتړ او روزنه کې رول درلوده. د هغوی لخوا د ايډيالوژۍ پر بنسټ پالل شوې ځينې جنګي ډلې وروسته خپلواکې شوې او د پاکستان پر وړاندې هم ودرېدې. له همدې امله، د نن ورځې امنيتي بحران له همدغه امنيتي ميراث سره تړلی ښکاري.
د پاکستان د اوسني چلن تر شا خپلو ستراتيژيکو موخو ته د لاسرسي ترڅنګ د کابل په محاسبو باندې د فشار راوړلو او د خبرو په مېز باندې د خپل دريځ د پياوړي کولو اړخ هم ليدل کېږي. دا د پاکستان له خوا اعلان شوې موخه نه، بلکې يوه تحليلي ارزونه ده چې په پراخه کچه مطرح کېږي. په کندهار کې بريد او د عملياتو جغرافيايي پراختيا ښايي دا پيغام ولري چې اسلام‌اباد لکه څنګه چې ذبيح الله مجاهد وايي غواړي د مکې د تړون له مخې د يمن د حوثيانو په وړاندې د ګام نه پورته کولو لامل، له افغانستان سره په جګړه کې د خپل هېواد ښکېلتيا وښيي او له بلې خوا په افغانستان باندې فشار زيات کړي.
پاکستان په عين حال کې له يوه بل بدلون سره هم مخ دی: افغانستان نور د پخوا په څېر يوازې پر پاکستاني اقتصادي او ترانزيټي لارو متکي هېواد نه دی. له ايران، منځنۍ اسيا، چين او نورو سيمه‌ييزو خواوو سره د اړيکو پراختيا د اسلام‌اباد د پخواني نفوذ ستره برخه محدوده کړې ده. په دغو شرايطو کې پوځي فشار ښايي د پاکستان لپاره د نفوذ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ساتلو یا بېرته پیاوړي کولو یوه وسیله وي؛ خو که د پاکستان فشار او په وړاندي یې د افغانستان مقاومت دوام ومومي، معکوسې پایلې هم درلودلای شي او افغانستان د بدیلو سیمه‌ییزو او اقتصادي اړیکو پر لور لا ډېر وړاندې تللای شي.
په سیمه کې موجود پېچلي جیوپولیټیک وضعیت، د افغانستان کورنیو ستونځو، د پاکستان پرله‌پسې بریدونو، د افغانستان د بدنامه کولو لپاره د دغه هېواد نړیوال کمپاین او د افغانستان انزوایي حالت په پام کې نیولو سره، افغانستان ته یوازې د پاکستان د تورونو ردول بسنه نه کوي. که له افغان خاورې څخه د وسله‌والو فعالیتونو په هکله ادعاوې کېږي، افغانستان باید د خپل حاکمیت په چوکاټ کې د دغو ادعاوو د څېړلو او تایید لپاره مسلکي میکانیزم، په کور دننه پراخ ملاتړ او په نړیواله کچه پیاوړې لابي ولري. دا به له یوې خوا د پاکستان د ادعاوو د ردولو لپاره مستند بنسټ برابر کړي او له بلې خوا به د هغو احتمالي موخو د شنډولو لپاره لاره هواره کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د پاکستان یا نورو هېوادونو پر وړاندې د ګواښ د شتون ادعاوو پر بنسټ تعقیبېږي.
د روان کړکېچ د پای ته رسولو لپاره بله حل لاره داده چې د هوایي بریدونو او متقابلو پوځي اقداماتو د درولو لپاره بیړنی تفاهم رامنځته شي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ داسې اوږدمهاله امنیتي میکانیزم جوړ شي چې د امنیتي ادعاوو په هکله د شواهدو شریکول، د پېښو ګډه څېړنه او د اختلافونو د ژر حل لپاره لاره هواره کړي. دواړه هېوادونه باید د خپلې خاورې د امنیت او د بل هېواد پر وړاندې د وسله‌والو فعالیتونو د مخنیوي په برخه کې خپل مسئولیت په جدي ډول ترسره کړي او خپلې امنیتي اندېښنې په یو بل باندې د بریدونو او متقابلو تورونو لګولو پرځای د ګډو میکانیزمونو له لارې تعقیب کړي.
د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې پرتې دروازې د روښانه دوه‌اړخیزو ضمانتونو په چوکاټ کې باید پرانیستې پاتې شي. د دروازو د تړلو شرایط باید له مخکې څخه په دوه‌اړخیزه هوکړه کې مشخص او یوازې په محدودو او استثنایي مواردو پورې منحصر وي. که دوه‌اړخیز میکانیزم په کومه جدي موضوع کې پاتې راشي، دواړه خواوې باید د باور وړ دریم لوري یا سیمه‌ییز منځګړیتوب ته د مراجعه کولو لپاره له مخکې څخه هوکړه ولري. د چابهار، منځنۍ اسیا، چین او نورو سوداګریزو لارو پراختیا د افغانستان لپاره له پاکستان سره د سوداګرۍ د پرېکون لپاره نه، بلکې باید د دې لپاره وي چې د یوې لارې تړل د افغانستان اقتصاد له جدي زیان سره مخ نه کړي. که پاکستاني لارې د لګښت، سرعت، امنیت او اعتبار له پلوه سیالې پاتې شي، افغان سوداګر به یې په طبیعي ډول وکاروي.
په پای کې، د اوسني وضعیت حل په پوځي بریدونو او ځوابي غچ اخیستو کې نه، بلکې په داسې چوکاټ کې دی چې امنیتي شخړې د ګډو میکانیزمونو، اقتصادي اړیکې د متقابلو ضمانتونو او سیاسي ستونځې د اوږدمهاله خبرو له لارې مدیریت کړای شي. دواړه هېوادونه باید د بریدونو، د دروازو د تړلو او متقابل فشار پر ځای د بحران د مخنیوي لپاره داسې دوه اړخیز طرزالعمل رامنځته کړي چې د متقابل امنیت، اقتصادي ثبات او مسئولانه اړیکو لپاره لاره هواره شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ